# مسیر

ورځپانه

نوی لید، نوی مزل

www.maseerdaily.af


دوشنبه د ۱۳۹۹ د چنګاښ نهمه | د ۲۰۲۰ د جون ۲۹مه | ۵۵۸مه ګڼه


## ولایت

۴ مخ

### پکتیا

د پکتیا خلک د جرګو او مرکو خلکو په نامه یادېږي او ډېرې شخړې او لانجې پکې له دې لارې هوارېږي چې دا یې د کلتور یوه خاصه ځانګړنه ده.



## پر افغان حکومت د فساد تورونه؛

### امریکا: د فساد په اړه راپورونه د اندېښنې وړ دي، حکومت دې ژر خپله پالیسي اعلان کړي




۳


بین الافغاني خبرې ولې نه پیلېږي؟ — ۲ مخ

د افغانستان اوبه او د ګاونډیانو اندېښنې — ۲ مخ

د سولې تخنیکي پروسه؛ کورني او بهرني عوامل — ۳ مخ


## په وردګو کې د نږدې ۶۰ میلیونو افغانیو په لګښت د عامه کتابتون ودانۍ جوړېږي



د وردګو ولایت په مرکز میدان ښار کې د څه باندې ۶۰ میلیونو افغانیو په لګښت د یوه کال په اوږدو کې د عامه کتابتون درې پوړیزه ودانۍ جوړېږي.

د دغه ولایت د اطلاعاتو او فرهنګ رییس محمد بشیر محمدي ویلي چې دغه کتابتون د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت له بودجې څخه په دریو پوړونو کې د یوه کال په جریان کې جوړېږي چې د ادبي، هنر او فرهنګي غونډو لپاره به لوی تالار هم ولري. د ده په وینا، په دغه کتابتون کې به پر یوه وخت ۳۰۰ کسان وکولای شي چې مطالعه وکړي. د میدان وردګو د والي مرستیال تاج محمد عمري د دې ودانۍ د بنسټ ډبرې د اېښودو په مراسمو وویل چې په ټولنه کې له شته ستونزو او ناخوالو څخه د خلاصون یوازینۍ لاره زده کړه او له کتاب سره ملګرتیا ده.

هغه پر خلکو غږ وکړ، چې خپل اولادونه زده کړو او کتاب لوستلو ته وهڅوي، ترڅو ټولنه له ستونزو او ناخوالو څخه خلاصه شي.

## سولې وزارت: د جولای میاشتې تر لومړۍ اونۍ به له طالبانو سره د سولې د خبرو لپاره تیارۍ بشپړې شي

په داسې حال کې چې د امریکا او طالبانو ترمنځ له هوکړې نږدې درې میاشتې تېرېږي، د افغانستان د سولې په چارو کې د دولت وزارت وایي، د راتلونکې جولای میاشتې د لومړۍ اونۍ تر پایه به له طالبانو سره د سولې د خبرو لپاره تیارۍ بشپړې شي.

د دغه وزارت سلاکار عزیزالله فضلي ویلي چې د سولې د مصالحې شورا د غړو شمېر به هم په دوو اونیو کې بشپړ شي. فضلي همداراز ویلي چې ژر به د بندیانو د خوشي کېدو درېدلی بهیر پیل او نهایي شي.

دا په داسې حال کې ده چې ټاکل شوې وه د امریکا او طالبانو ترمنځ د سولې تړون له لاسلیک وروسته په لسو ورځو کې د سولې بین الافغاني خبرې هم پیل شوې وی، خو په دې پروسه کې د پرتو خنډونو له کبله دا چاره تر نن ورځې ځنډېلې او له بلې خوا جګړه هم شدیده شوې ده. طالبانو د دغه ځنډ پړه پر افغان حکومت ور اچولې او وایي چې له امریکا سره د شوې هوکړې له مخې باید لومړی د دوی بندیان ازاد شوي وی، خو افغان حکومت دا چاره وځنډوله او په لوی لاس یې د جګړې دوام ته لاره هواره کړه، خو حکومت بیا د طالبانو دا ادعا ردوي او وایي چې دوی د پنځو زرو طالب زندانیانو د ازادولو لړۍ پیل کړې، خو طالبانو له سولې سره هممهاله جګړه شدیده کړې او په دې سره د تاوتریخوالي د ډېرېدو په هڅه کې دي.

## د هدفي وژنو د مخنیوي په برخه کې د افغان حکومت ناغېړي د اندېښنې وړ ده

۱۶ جوزا ۱۳۸۱

کمیسیون مستقل حقوق بشر افغانستان

د افغانستان د بشر د حقونو خپلواک کمیسیون

AFGHANISTAN INDEPENDENT HUMAN RIGHTS COMMISSION

۲ مخ

## رسانه های پاکستانی: حکومت افغانستان راهبرد مبارزه با مخالفان پاکستان را تغییر داده است



رسانه آنلاین «بلوچستان پست» گزارش داده‌است که حکومت افغانستان راهبرد خود برای مبارزه با گروه‌های مخالف پاکستان را در خاکش تغییر داده‌است. در این گزارش آمده‌است که اخیراً عملیات‌هایی در برابر طالبان پاکستانی در پکتیکا و کنر راه اندازی شده‌اند. بربنیاد این گزارش، تصمیم عملیات در برابر طالبان پاکستانی در ولایت‌های پکتیکا و کنر پس از سفر اخیر قمر جاوید باجوه، لوی درستیز پاکستان به کابل و توافق او با رئیس‌جمهور غنی، صورت گرفته‌است. در همین حال، مقام‌های محلی کنر می‌پذیرند که در روزهای پسین در ولسوالی‌های مرزی این ولایت عملیات نظامی راه اندازی شده‌است.

گل محمد بیدار، معاون والی کنر گفت: «در ولسوالی مروره توسط قطعه ویژهٔ امنیت ملی عملیات راه اندازی شد که در این عملیات، سه طالب افغانی و دو پاکستانی کشته شدند و سه پاکستانی بازداشت شدند.» بربنیاد یک خبرنامهٔ نیروهای ۹۰۲ امنیت ملی، دو عضو تحریک طالبان پاکستانی در عملیات نیروهای ویژه در ولسوالی مروره کنر کشته شدند. یوسف مظلوم‌یار، سرپرست فرماندهی پولیس کنر می گوید که در روزهای اخیر نیروهای دولتی در ولسوالی‌های مرزی مروره، سرکانو و دانگام این ولایت عملیات نظامی را آغاز کرده‌اند: «در درهٔ ناوه ولسوالی سرکانو، پولیس قطعهٔ ویژه عملیات کردند که در آن‌جا یک قرارگاهٔ دشمن ازبین برده شد.» در همین حال، طاهرخان، یک خبرنگار پاکستانی ادعا می‌کند که نظامیان پاکستانی در سفر رئیس امنیت ملی افغانستان به پاکستان از او خواسته بودند تا بر ضد طالبان پاکستانی در افغانستان عملیات نظامی راه اندازی کنند.


Aksos Book Store

اکسوس کتابپلورنځی

کتاب مو د ژوند ملګری کړئ



Aksos

کابل دریمه ناحیه، دهبوري پارک جنوبي دروازې ته مخامخ

0798-98-9696, 0202504652

www.aksosbookstore.af

Aksos Book Store

aksosbookstore@gmail.com

## درېځ

### بین الافغاني خبرې ولې نه پیلېږي؟

شاوخوا درې میاشتې وړاندې باید بین الافغاني خبرې پیل شوې وای، خو لا هم نه یوازې دا چې دا خبرې پیل شوې نه دي، بلکې ښکارېږي چې شته خنډونه به د دې خبرو پیل او بریا له ستونزو سره مخ کړي. که څه هم ویل شوي چې په جولای میاشت کې به دا خبرې پیل شي، خو د ښکېلو اړخونو ارادو او کړنو ته په کتو سره بیا هم د خنډ احتمال شته.

ولې بین الافغاني خبرې نه پیلېږي، اصلي خنډونه څه دي، څوک زیان کوي او څوک مسوول دي؟

د بین الافغاني خبرو د پیل پر وړاندې دوه اساسي خنډونه وو. لومړی دا چې پینځه زره طالب بندیان باید خوشې شوي وی چې حکومت یې خوشې کولو ته تیار نه و. دویم دا چې طالبان له افغان حکومت سره خبرو ته نه حاضرېدل. ځینې نور واړه خنډونه هم وو او شته، خو اصلي خنډونه همدا دوه دي. له حکومتي اړخ سره د طالبانو له خوا له خبرو انکار ډېر جدي نه و؛ ځکه چې یو ګډ پلاوی دا هر څه سموولی شوی، خو له بده مرغه د بندیانو نه خوشې کولو ستونزه اوږده کړه. حکومت د طالب بندیانو له خوشې کولو په بېلابېلو پلمو انکار کاوه، خو له امریکایي فشارونو وروسته حاضر شول چې نږدې څلور زره بندیان خوشي کړي. اوس ښایي پاتې زر نور بندیان هم خوشې کړي، خو وخت به اخلي. د بندیانو د خوشې کولو لپاره چې حکومت کوم شرطونه ایښي وو، هغه یو هم نه دی عملي شوی، خو حکومت بندیان خوشې کړل او نور به هم همداسې بې شرطه خوشي کوي. د بندیانو نه خوشي کول او پکې ځنډ د دې سبب شول چې د بین الافغاني خبرو پیل وځنډېږي. له همدې امله جګړې دوام وکړ چې پکې زرګونه نور افغانان ووژل شول. طالبان، امنیتي ځواکونه او ملکي وګړي ټول افغانان وو چې له بده مرغه قرباني شول او لا هم قرباني کېږي. اوس هېڅوک نشته چې د قربانیانو کورنیو ته ځواب ووایي او مسوولیت واخلي. حکومت ولې په پیل کې بندیان خوشې نه کړل؟ اوس یې ولې خوشې کوي؟ څه بدل شوي چې حکومت طالب بندیان خوشي کوي؟ که څه بدل شوي نه وي، نو بیا خو دا مانا لري چې حکومت ته د زرګونو افغانانو وینې مهمې نه وې او نه اوس مهمې دي.

له بله اړخه طالبانو هم د بندیانو خوشې کول دومره جدي نیولي چې د جګړې دوام ته یې لاره پرانیستې ده. د طالبانو بندیان به خوشي شي او باید ټول خوشي شي، خو پکار ده چې خبرې پیل شي. د خبرو پیل او بریا به د ټولو بندیانو خوشې کولو ته لاره هواره کړي. اوس د جګړې دوام که د څلور زرو بندیانو خوشې کولو ته لاره هواره کړه، خو د زرګونو طالبانو، امنیتي ځواکونو او ملکي وګړو د وژنې سبب هم شوه.

د جګړې دوام او د بین الافغاني خبرو په پیل کې ځنډ نور په واضح ډول له ولس سره دښمني او د جګړې د دوام غوښتنه ده. له بده مرغه د واکمنو؛ پر ولس، امنیتي ځواکونو، طالبانو او عامو خلکو هېڅ زړه درد نه کوي. دوی ټول افغانان دي او باید وژغورل شي. هر څوک چې له دې ولس سره لږ هم مینه لري او زړه یې پرې دردېږي، باید شرطونه او دېوالونه ونړوي او بین الافغاني خبرې پیل کړي، څو هم رواني وژنې ودرېږي او هم یوې تلپاتې سولې ته لاره هواره شي.

شپږمه برخه:

**پر کابل-تهران اړیکو د اوبو د مسئلې اغېزې**

ایران او افغانستان، د افغانستان-پاکستان-هند په څېر د سیمو پر سر شخړې نه لري؛ خو د اوبو موضوع یې دوه‌اړخیزې اړیکې ګواښي او اوسمهال د اوبه مسئله په دغو اړیکو کې یو مهم فکټور بلل کېږي. کوم څه چې د ایران د بهرنیو چارو وزیر جواد ظریف هم په خپله وروستۍ مرکه کې اشاره ورته وکړه.

له بده مرغه د ایران او افغانستان ترمنځ د اوبو پر مسئله اختلافات یوه نوي پړاو ته د ننوتلو په حال کې دي او د ګډو اوبو قضیه په دواړو هېوادونو کې خورا زیاته سیاسي شوې ده. په ایران کې د چاپېریال ساتنې په اړه نړیوال کنفرانس (جولای ۳مه ۲۰۱۷) کې د ایران د ولسمشر حسن روحاني وینا او په افغانستان کې د بندونو پر جوړولو نیوکو، په افغانستان کې پراخ غبرګونونه راوپارول. د موضوع حساسیت ته په کتلو سره که څه هم اړتیا وه چې روحاني په خپلو خبرو کې د کلمو انتخاب په ځیرکۍ سره وکړي او تر یوه بریده یې خبرې ناسمې هم تعبیر شوې؛ خو په ټولیز ډول نوموړي د افغانستان د بندونو موضوع په صراحت سره مطرح کړه، چې د افغان چارواکو، د ملي شورا یو شمېر غړو او په ټولنیزو رسنیو کې د عامو افغانانو له پراخ غبرګون سره مخ شوه، ان په ځینو ښارونو کې د ایران پر ضد لاریونونه هم وشول.

په ټولیز ډول ایران او افغانستان په خپلو دوه‌اړخیزو اړیکو کې له ځینو لوړو-ژورو سره سره، نږدې اړیکې لرلې دي. خو په وروستیو کلونو کې د بېلابېلو راپورونو له مخې په لوېدیزو او سوېل لوېدیزو ولایتونو کې ایران د افغان حکومت د مخالفینو په ملاتړ او مرستو تورن شوی، کوم څه چې پر دغو دوه‌اړخیزو اړیکو یې سیوری غوړولی او یو لامل یې هم د اوبو قضیه بلل کېږي.

**له ایران سره د اوبو د شخړې هواری**

که څه هم افغان لوری له ایران سره د اوبو مسئله حل شوې بولي او د دواړو هېوادونو ترمنځ د اوبو د تړون پر پلي کېدو ټینګار لري او له همدې کبله افغان حکومت په دې تړاو ډېر کم ګامونه هم اوچت کړي؛ خو دا چې له یوې خوا دواړو لورو د دغه تړون د پلي کېدو او په ځانګړې توګه ایران ته د بهېدونکو اوبو د دقیقې کچې معلوملو او معلوماتو تبادله کولو په برخه کې اغېزناک ګامونه نه دي اخیستي او دواړو لورو په تورونو او ادعاوو اکتفا کړې او له بلې خوا ایران د اوبو د مسئلې له کبله له بېلابېلو لارو په افغانستان فشارونه هم راوړي، له همدې کبله دا مسئله د خبرو اترو او عملي ګامونو له لارې هوارولو ته اړتیا لري. دواړه هېوادونه د تېر په څېر اوسنی اختلافات هم د خبرو اترو له لارې هوارولی شي؛ خو د دواړو هېوادونو دښمني بیا نه یوازې دواړو هېوادونو ته، بلکې د سیمې په کچه ګواښ بلل کېږي.

د ۱۹۷۳ کال په تړون کې د اختلاف پر مهال د ستونزو د هواري لارې چارې هم ښودل شوې دي او باید اړوند اختلافات له تړون سره سم، له سوله‌ییزو او دوستانه لارو حل شي. دا چې د ایران-افغانستان د اوبو تړون یو معتبر سند دی، له همدې کبله د تړون د پلي کېدو لپاره د هلو ځلو پر ځای سیاسي فشارونه د اوبو د نړیوالو قوانینو خلاف بلل کېږي.

# د افغانستان اوبه او د ګاونډیانو اندېښنې

لیکنه: عبدالرشید نایل

په ۱۹۹٤ کال کې د طالبانو د واکمنۍ پر مهال او د سختې وچکالۍ له کبله د کجکي بند له بشپړ ترلو سره د لنډ وخت لپاره په ایران اوبه وتړل شوې. خو اوس افغان لوری ټینګار کوي، چې نه یوازې دا چې د اوبو له تړونه یې سرغړونه نه ده کړې، بلکې په تېرو کلونو کې ایران ته له خپل حق زیاتې اوبه ورکړل شوې دي. افغان لوري چمتووالی ښودلی، چې د متخصصینو یو کمیسیون په دې اړه څېړنه وکړي؛ خو عملي ګامونه یې نه دي پورته شوي. په ایراني اړخ کې بیا د بېلګې په توګه له ترکمنستان سره په ۲۰۰۵ کال کې د افغانستان له مشورې پرته ګډ بند جوړول او ګڼ شمېر نورې پرژې له دغه تړونه او د ۱۹۹۲ کال کنوانسیون له موادو سرغړونه بلل کېږي. له بلې خوا د تړون د روښانتیا په اړه د اوبو او انرژۍ وزارت نظر دا دی، چې ایران باید د هلمند سیند له دریو نقطو څخه اوبه واخلي؛ خو ایران اوس د دغه سیند له ۱۳ ځایونو اوبه اخلي او سیند یې ټوټې کړی دی. د دغو ټولو نهرونو ظرفیت ۱۵۰ متر مکعب په هره ثانیه کې تخمینېږي.

له ایران سره د اوبو د مسئلې یو شمېر افغان څېړونکي بیا د ایران دا هڅې د زیاتو اوبو ترلاسه کولو لپاره بولي. دکتور فاروق اعظم په دې اند دی، چې ایران په پخواني تړون کې افغانستان ته ویلي وو، چې چمتو دی اضافي اوبه له افغانستان څخه په بیه واخلي، کومې چې د مدیریت د نشتون له کبله اوس وړیا ورځي. د ده په نظر، ایران ځکه هڅه کوي، چې په دغه تړون بیا کتنه وشي، ترڅو په افغانستان کې له خپل اغېز څخه په ګټې اخیستنې سره په نوي تړون کې له ۲٦ متر مکعب څخه زیاتې اوبه خپلې کړي، په داسې حال کې چې د اوبو کچه اوسمهال کمه شوې هم ده او وچکالۍ کال په کال مخ په زیاتېدو دي.

له همدې کبله افغان لوری په ایران پړه اچوي، چې ایران د ستونزې د هواري لپاره د تړون د پلي کېدو په اړه خبرو اترو پر ځای ګواښونو او د پردې تر شا فعالیتونو ته لومړیتوب ورکوي او هڅه کوي، چې له دې لارې افغانستان تر فشار لاندې ونیسي او د تېر په څېر له خپل حق زیاتې اوبه ترلاسه کړي. ایران د ناامنیو، دوه تر درې ملیونه افغان کډوالو او ترانزیټي او اقتصادي قضیاوو له لارې پر افغانستان فشار راوړي؛ کوم څه چې د ایران د بهرنیو چارو وزیر جواد ظریف په خپله وروستۍ مرکه کې اعتراف هم پرې وکړ. په دې توګه که څه هم ایران ظاهرا د تړون پر پلي کېدو ټینګار لري او افغان لوری هم همدا غواړي او په تېره ولسمشر غني څو ځله ټینګار کړی، چې له ایران سره د اوبو د ستونزې هواری د تړون عملي کېدل دي؛ خو په دې تړاو د دواړو لورو لهخوا عملي ګامونه نه دي اوچت شوي.

که دواړه هېوادونه د هلمند اوبو د اوسنیو اختلافاتو هواری وغواړي، دا به ډېر ساده او اسانه وي؛ ځکه له دغه هېواد سره د اوبو د وېش هراړخیز تړون موجود دی او د هر ډول وضعیت لپاره وړاندوېنې لري. د هلمند سیند د اوبو د وېش تړون بله مهمه ګټه دا هم ده، چې د هریرود-مرغاب حوزې د اوبو په تړاو د دواړو هېوادونو توافق هم خورا اسانولی شي.

**له پاکستان سره د اوبو د وېش ستونزې**

پاکستان هم د افغانستان هغه ګاونډی دی، چې په سوېل ختیځ کې ۲٤۳۰ کیلومتره اوږده پوله او د کابل سیند په حوزه کې، د اوبو د وېش له کوم تړون پرته، ګډې اوبه لري. دا چې په افغانستان او پاکستان دواړو هېوادونو کې د اوبو د کمښت ستونزه په پراخېدو ده، د ګډو اوبو د وېش قضیې اهمیت او له کبله یې راټوکېدونکې ستونزې هم زیاتې شوې دي.

په پاکستان کې د اوبو د کمښت ستونزه

د کابل سیند حوزه د افغانستان په څېر پاکستان ته هم خورا زیات اهمیت لري؛ ځکه دغه هېواد له ډېر وخت راهیسې د اوبو د کمښت له فشار سره مخ دی. د ملګرو ملتونو د نړیوالو اوبو د پراختیا د راپور له مخې، په پاکستان کې د اوبو سرچینې یوازې په پینځو کلونو کې نږدې نیمایي کمې شوې دي. د دغه راپور له مخې، دا کچه د هر کس لپاره په ۲۰۰۰ میلادي کال کې ۲۹٦۱ متر مکعب څخه، په ۲۰۰۵ کال کې ۱٤۲۰ متر مکعب ته راټیټه شوې ده.

پاکستان د هغو هېوادنو په کتار کې هم دی، چې د کرنیزو موخو لپاره ترځمکې لاندې اوبو څخه تر ټولو ډېره استفاده کوي. د یوې سروې له مخې، په پاکستان، نیپال او بنګلدېش کې د ۷۵ سلنه سیمو د خړوبولو لپاره تر ځمکې لاندې اوبه کارول کېږي او له همدې کبله د یوې څېړنې له مخې، په پنجاب ایالت کې تر ۲۰۱۵ کال پورې په ۵ یا ٦ کلونو کې د ځمکې لاندې اوبو کچه ۵ تر ٦ متره پورې ښکته تللې وه. همدا راز د بلوچستان ایالت په ځینو برخو کې په تېره یوه لسیزه کې هر کال ۲ تر ۳ مترو پورې اوبه ښکته تللې دي او اصلي لامل یې هم په دغه هېواد کې د اوبو افراطي کارونه ده.

**پاکستان ته بهېدونکې اوبه**

دا چې په کابل سیند حوزه کې هم د اوبو د اندازه کولو فعال او د دواړو هېوادونو ترمنځ همغږی شوی سیستم او کره مواد نشته دي، پاکستان ته د بهېدونکو اوبو د کچې ارقام هم له یو بل سره توپیر لري. د ځینو تخمینونو له مخې، له افغانستانه پاکستان ته د اوبو جریان ۲۱،۵ کیلومتر مکعب دی او له دې جملې ۱۵،۵ کیلومتر مکعب یې له کابل سیند (په دې کې بیا ۱۰ کیلومتر مکعب یې له پاکستانه سرچینه اخلي) او ٦ کیلومتر مکعب یې هم د دغې حوزې له نورو شاخو لکه پنجشېر، ګومل، مارګو شمال او کرم سیندونو څخه دي.

د پاکستان د اوبو او برېښنا د پراختیا ادراې د معلوماتو له مخې، افغانستان د کابل سیند له لارې د پاکستان ۱٦ تر ۱۷ سلنه پورې اوبه برابروي. خو د پاکستان له پولې سره څېرمه په ډکه ستېشن کې د دغه سیند د تخلیې اوسط کچه ۶۰۸،۴ متر مکعب په هره ثانیه کې ده. دغې کچې ته په کتلو سره کابل سیند د سند حوزې ۱۹،۲ کیلومتر مکعب یا ۲۰ سلنه کلنۍ اوبه برابروي.

دغه راز د پاکستاني څېړونکو موندنې ښیي، چې له کابل سیند سره د سوات او جېندي سیندونو له یو ځای کېدو وروسته په نوښېره ستېشن کې د پنځو کلونو په جریان کې ثبت شوي مواد ښیي، چې له جولای څخه تر اګست میاشتې پورې دغلته د اوبو جریان په هره ثانیه کې له ۱۰۰۰ متر مکعب څخه زیات دی.

**د پاکستان اندېښنې**

د کابل سیند حوزه په پراخه کچه د اوبو زېرمه کولو او برېښنا د تولید وړتیا لري. په دې حوزه کې د ۸ تر ۱۰ پورې داسې بندونو جوړولو وړتیا شته، چې په لوړه کچه د اوبو زېرمه کولو او برېښنا د تولید وړتیا ولري. پاکستان اندېښنه لري، چې د کابل سیند پر حوزه پراختیایي او زېربنایي کارونه به د پاکستان په اړخ کې د دې حوزې پر اړوندو سیمو منفي اغېزې وښندي. په ټوله کې خیبر پښتونخوا ایالت او په ځانګړې توګه د خیبر پښتونخوا ایالت درې سیمې (پېښور، نوښېره، چارسده) د کابل سیند د اوبو کمېدو له کبله اغېزمنېږي.

پاکستانی لوری اټکل کوي چې پر کابل سیند د پلان شوو بندونو له جوړېدلو سره به، د دغې حوزې د لاندېنۍ سیمې په توګه پاکستان ته د ورتلونکو اوبو کچه ۱۷ سلنه راټیټه شي او دا هغه څه دي، چې په طبیعي ډول په افغانستان کې د دغو پروژو د بشپړېدلو په تړاو د پاکستان اندېښنې له ځان سره لري. دا کمښت به داسې مهال وي، چې په تېرو څو لسیزو کې د اوبو د عمومي کچې د کمښت له کبله هم پاکستان ته د بهېدونکو اوبو کچه کال په کال کمه شوې ده او پاکستانی لوری اندېښمن دی، چې په افغانستان کې د اوبو د بندونو له جوړېدلو سره به په پاکستان کې تر کابل سیند لاندې سیمې د اوبو د کمښت له بحران سره مخ شي، کوم څه ته چې پاکستان چمتووالی نه لري. پاکستاني څېړونکي په دې اند دي، چې دا وضعیت به له کابل سره د اسلام اباد پر اړیکو ژورې اغېزې ولري.

له لویه سره د اوبو کمښت او په ورته وخت کې د پاکستان په اړخ کې د اوبو افراطي کارېدنه یوه مهمه اندېښنه ده. په دې حوزه کې د اقلیمي بدلونونو او د هوا د ګرمېدو له کبله د واورو او یخچالونو کچه کمېږي، چې له کبله یې د واورې ورښت په بارانونو بدلېږي او ډېرې اوبه په هغو وختونو کې بهېږي، چې اړتیا یې کمه وي. څېړنې ښیي، چې په تېرو ۵۰ کلونو کې د پامیر او هندوکش غرونو کې د طبیعي یخچالونو کچه ۳۰ سلنه کمه شوې ده.

په افغانستان کې له جګړو او بې‌ثباتیو وړاندې د کابل سیند پر حوزه ۷ بندونه جوړ شوي او د ۱۲ بندونو جوړول په پلان کې دي، چې پر دوو یې عملا کار روان دی. دا بندونه به په ټولیز ډول ۱۸۹۱ مېګاواټه برېښنا تولید کړای شي. په پاکستان کې بیا دوه بندونه (ورسک او ګولن) د همدې حوزې پر اوبو جوړ شوي دي. پاکستان په ۲۰۱٤ کال کې په خیبر پښتونخوا سیمه کې د داسو بند طرحه هم نړیوال بانک ته د تمویل په موخه ورکړې وه، چې د نړیوال بانک لهخوا له افغان دولت سره له شریکولو وروسته د افغانستان له مخالفت سره مخ شوه.

**دوام لري...**

# د سولې ټکنۍ پروسه؛ کورني او بهرني عوامل

لیکنه: جمال رحمن- کوبها ډیالوګ

**لومړۍ برخه:**

د شلمې پېړۍ له پیل راپدېخوا د فلسطین له کړکېچ وروسته د جنګونو په تاریخ کې پر افغانستان تپل شوې جګړه له ټولو اوږده او تباه کوونکې جګړه ده. لومړۍ نړیوالې جګړې څلور کاله، دویمې تقریباً شپږ کاله، د ایریتریا د ازادۍ جګړې ۳۰ کاله، د نامیبیا د ازادۍ جنګ ۲۹ کاله ، د ویتنام جګړې ۱۸ کاله او د الجزایر د ازادۍ جګړې ۸ کاله دوام وکړ؛ خو افغانستان له شاوخوا ۴۰ کلنې جګړې وروسته لا هم د شخړو او ناکراریو شاهد دی.

له ۱۹۸۰ یمې لسیزې راهیسې د افغانستان د ستونزې د حل لپاره ډېرې هلې ځلې شوې؛ خو تر اوسه یې کومه د پام وړ نتیجه نه ده ورکړې.

سره له دې چې افغانان له جګړې ستړي شوي او سوله یې تر ټولو ستره هیله او اړتیا ده او دا ورته ثابته شوې هم ده، چې دا تپل شوې پردۍ جګړه ده او هیڅ ډول ملي، دیني او سیاسي مشروعیت نه لري؛ خو د سولې لپاره روانو هلوځلو ته د خپلو پخوانیو تجربو پر اساس د شک په سترګه ګوري.

کمزورې حکومتولي، په ملي چارو کې د افغانستان د نخبه‌ګانو تر منځ د تفاهم نشتوالی، په سیاسي او ټولنیز لحاظ نامنظم ملت، د جګړې د سیمه ییزو او نړیوالو لوبغاړو متضادې ګټې او د سیمه ییزو قوتونو رقابت د جګړې د اوږدېدو او سولې پروسې د ټکني کېدو عوامل دي.

**د جګړې پیل او وده**

د نړۍ په هره برخه کې د اوسنیو جګړو علتونه ملي ګڼل کېږي دي. دین، ایډیالوژي، بشري حقوق، ډیموکراسي، اسلامي ورورولي او داسې نورو شعارونه د جګړې د مشروعیت لپاره کارول کېږي چې مصرفوونکي یې اکثریت وروسته پاتې ولسونه دي.

پر افغانستان د شوروي اتحاد له یرغل سره سم یوه داسې جګړه وتپل شوه چې هم ملي او هم نړیواله وه. دغه جګړه لومړی په کونړ، نورستان او خوست کې په محدودو وطني وسایلو پیل او د منابعو په زیاتېدو او لوبې ته د سیمه ییزو او نړیوالو لوبغاړو په داخلېدو سره پراخه شوه. جګړه په پیل کې ملي ځکه وه چې د افغانانو په ملي حاکمیت تیری شوی و او سرچینې یې هم ملي وې. نړیواله ځکه شوه چې د جګړې بهرني ابعاد ډېر پراخ شول او د نړۍ اکثره لوی او واړه قوتونه په یو نه یو ډول د دې جګړې لوبغاړي دي.

د جګړې اصلي قربانیان افغانان دي؛ خو عمده اهداف، پلان، منابع او د اهدافو ټاکونکي یې غیر افغاني دي چې په افغانستان او سیمه کې د متضادو اهدافو لپاره کارول کېږي. نو ځکه ویلی شو چې جګړه ملي بڼه نه لري او بهرنی اړخ یې غښتلی دی. دا چې جګړه ولې دومره اوږده شوه او ولې پای ته نه رسېږي، کورني او بهرني دواړه علتونه لري.

**سیاسي ټیکاو او ملي تفاهم**

د افغانستان ستراتیژیک موقعیت، د لوبغاړو شمېر، د سیمه ییزو او نړیوالو ځواکونو متضادې ګټې او اهداف د جګړې د دوام باعث کېږي. کورنۍ ستونزې لکه په بېلابېلو وختونو کې د سیاسي او اقتصادي قدرت د انحصار هڅه، پر ملي مسایلو د ټولنې د نخبه پوړ عدم تفاهم، کمزوری اقتصاد، بې عدالتي، اداري فساد، ټوپکواکي، د مخدره توکو مافیا او کمزورې حکومتولي هغه عوامل دي چې بهرنیو لاسوهنو ته زمینه مساعدوي او د طالب، حقاني او په محلي سطح د جنګسالارانو په بڼه تبارز کوي.

طالبان بېرته قدرت ته رسېدل او یا په قدرت کې داسې لویه ونډه غواړي چې ټاکونکی ځواک دوی وي او نور یکې صرف حضور ولري. جنګسالاران نه یوازې د خپل سیاسي قدرت او امتیازاتو ساتل غواړي، بلکې د میراثي کولو په هڅه کې یې هم دي. د مخدره توکو کاروباریان او د قراردادونو مافیا په کمزورې حکومت، ناامنۍ، اداري فساد او جګړه کې خپلې ګټې ویني، ځکه د سولې راتګ ته زړه نه ښه کوي او مخه یې نیسي.

بل څه چې دولت کمزوری او بې ثباته کوي د هیواد ناکاره سیاسي جوړښتونه په تېره د حکومت، پارلمان، سیاسي ګوندونو، د ملکي خدماتو جوړښت او د خپل کار په پایښت د کارمندانو بې باوري ده.

د یوه ډیموکراټیک جمهوري نظام د بري لپاره یوه داسې پارلمان ته اړتیا ده چې له سیاسي ګوندونو جوړ او په کاري لحاظ په سکټوري ډلو کې تنظیم شوی وي. د کاري موضوعاتو په ټاکنه او د مصوبو په ترتیب او تصویب کې د ملي ګټو په بنسټ مسلکي چلند وکړي، سیاسي او ایډیالوژیک مخالفت په نظر کې و نه نیسي. که په پارلمان کې مسلکي ظرفیت نه وي، نو بیا له پارلمان نه د باندې موجود مسلکي ظرفیت وکاروي. خو موږ په تېرو شلو کلونو کې د داسې پارلمان په لرلو بریالي نه شوو. حکومتونو ونه غوښتل چې د وخت له غوښتنو سره سم د ګوندونو یو داسې قانون رامنځ ته کړي چې له یوې خوا په هیواد کې د سیاسي ټیکاو او ملي یووالي هسته وي، د سیاسي بې ثباتۍ مخه ونیسي او له بل پلوه د حکومت لپاره د دولتي مسوولیتونو په سرته رسولو کې یوه ډاډمنه کاري مرجع او د ملي ګټو مدافع قوه وي. زموږ اوسنی پارلمان تر ډېره حده له داسې افرادو جوړ دی چې سیاسي پروګرام او اجنډا یې یوازې شخصي ګټې دي او کوم خاص تخصص نه لري. داسې پارلمان د حکومت او ملت لپاره یوازې له جنجال، مالي منابعو ضایع کولو او د هیواد حیثیت ته له زیان اړولو پرته کومه بله پایله نه لري.

د وخت له غوښتنو سره سم او د ډیموکراسۍ د اړتیاوو پر بنسټ سیاسي ګوندونو ته موقع او مسوولیت نه ورکول نه یوازې له سیاسي ټیکاو سره مرسته نه کوي؛ بلکې د ډیموکراسۍ د ودې مخه نیسي، ټاکنې پر بحران بدلوي او د یوه کاري پلان او پروګرام پر اساس د حکومتي چارو د پرمختګ په لار کې خنډ واقع کېږي. که څه هم موږ د دولت مشرتابه د ټاکنو له لارې ټاکو؛ خو یوازې د ۲۰۰۴ ز کال ټولټاکنې جنجالي نه وې؛ د ولسمشرۍ له تېرو دوو دورو ټاکنو وروسته بیا هم زموږ حکومتونه د ټاکنو زېږنده نه؛ بلکې د یوه سیاسي تفاهم پایله وه. د دواړو خواوو تر منځ د جوړجاړي قرارداد په پایله کې حکومتي پستونه د متخاصمو ټیمونو تر منځ د فیصدۍ او پستونو د اهمیت په اساس وېشل کېږي، نه د یوه پنځه کلن کاري پروګرام او مسوولیت پر اساس. دغه وضعیت د سولې په څېر هر ملي بهیر کې د حکومت دریځ اغیزمنوي. له یوې خوا په حکومت باندې د ولس باور له منځه وړي، په مډرنو سیاسي موسساتو کې د ملت د تنظیمېدو مخه نیسي او له بلې خوا د کورنیو مخالفینو، سیمه ییزو دښمنانو او لاسوهونکو هېوادونو پر وړاندې په مجموعي توګه افغانستان داسې کمزوری کوي چې د خپلو مشروع حقونو او ګټو دفاع نشي کولی.

همدغه شان د هر سیاسي نظام د بري لپاره د سیاسي پرسونل او ملکي خدماتو تر منځ بېلتون اړین دی.

د سیاسي پرسونل بدلون د دولتي واک د انتقال په پایله کې یو طبعي چلند دی، خو د وزارتونو او نورو دولتي موسسو پرسونل باید د کښته نه پورته په تدریجي توګه وده وکړي اوهر کارمند باید په خپل کاري مصؤنیت باورمند وي. ایډیالوژي، شخصي او سیاسي ذوق، سلیقه او یا سیاسي رشوت باید د دولتي کارمندانو د ادلون او بدلون، مقررۍ، پرمختګ او منفکۍ معیار نه وي. البته د قانون په چوکاټ کې د زحمت په مقابل کې امتیاز او د تخلف په مقابل کې سزا یو اړین مدیریتي چلند دی. په دې توګه د افرادو پر ځای د دولت په وړاندې د دولتي کارمندانو وفاداري، مسلکي تخصص او غښتلي دولتي او غیر دولتي موسسات رامنځ ته کېږي، ولس په دولت باندې باور پیدا کوي، د قانون رعایت ته زمینه برابرېږي، د هېوادپالنې حس غښتلی کېږي او دولت په ټوله کې له ځان او ملي ګټو نه د کورني مخالفت او بهرنیو لاسوهنو پر وړاندې د دفاع ځواک پیدا کوي. خو موږ په دې برخه کې هم له لویو ستونزو سره مخ یو او څو چې په دې برخه کې لازم اصلاحات رانه شي، دولت دې له افرادو نه د وفادارۍ تمه نه کوي.

**دوام لري...**

# پر افغان حکومت د فساد تورونه؛

## امریکا: د فساد په اړه راپورونه د اندېښنې وړ دي، حکومت دې ژر خپله پالیسي اعلان کړي




په کابل کې د امریکا سفارت پر هغو راپورونو غبرګون ښودلی چې په افغان حکومت کې د فساد په تړاو خپاره شوي دي. په کابل کې د امریکا د سفارت شارژدافیر وايي، په افغانستان کې د فساد روان وضعیت او په دې تړاو خپاره شوي راپورونه د جدي اندېښنې وړ دي. دغه راپورونه د ملګرو ملتونو له لوري خپاره شوي دي. یاد سازمان ویلي چې په افغانستان کې د فساد د ختمولو لپاره اړین ګامونه نه دي اوچت شوي او فساد مخ پر زیاتېدو دی.

کله چې ولسمشر غني په تېر دور کې واک ته ورسېد او د ملي یووالي حکومت یې جوړ کړ، نو لومړنۍ ژمنه یې د فساد له منځه وړل وو، خو اوس تازه د معتبرو نړیوالو ادارو راپورونه ښیي چې په افغانستان کې فساد نه یوازې ختم شوی نه دی، بلکې سیستماتیک شوی او پراخ شوی دی. په دې وروستیو کې ملګرو ملتونو په افغانستان کې د فساد د موجودیت په اړه یو راپور خپور کړ. په هغه کې راغلي وو چې افغان حکومت د فساد پر وړاندې مبارزه کې بریالی نه دی او نه یوازې دا چې فساد کم شوی نه دی، بلکې ورځ تر بلې ډېر شوی هم دی.

له دې سره جوخت په کابل کې د امریکا سفارت هم د دغو راپورونو په اړه غبرګون ښودلی دی. د امریکا د سفارت شارژدافیر وايي، سره له دې چې د ملګرو ملتونو او امریکا د پرمختیایي کارونو په لار کې تر ټولو ستر خنډ اداري فساد دی، خو افغان حکومت له ګڼو ژمنو سره سره په دې بریالی نه شو چې د فساد کچه راکمه کړي او یا لږ تر لږ د مفسدینو پر وړاندې د پام وړ اقدامات وکړي.

د راس وېلسن په خبره، په افغانستان کې د فساد لوړېدونکې کچه د جدي اندېښنې وړ ده. د ده په خبره: ((په دې وروستیو کې باوري نړیوالو بنسټونو داسې راپورونه خپاره کړي چې په افغانستان کې د پراخ فساد د موجودیت ښکارندويي کوي)).

نوموړي په دې پیغام کې له نړیوال بنسټونو، رسنیو، خصوصي اداراتو او مدني ټولنو غوښتي چې د فساد ربښې پیدا کړي او په افشا کولو کې یې همکاري وکړي. د ده په خبره، فساد لا هم په افغانستان کې د بیارغونې، پرمختګ او ودې په لار کې تر ټولو ستر او خطرناک خنډ دی. وېلسن همدا راز پر افغان حکومت غږ کړی چې له فساد سره د مبارزې لپاره خپله تګلاره مشخصه کړي.

د امریکا سفیر همدا راز وايي چې له فساد سره مبارزه د دوی لومړیتوب ده او امریکا د فساد پر له منځه وړلو ټینګار کوي. د ده په خبره: ((له فساد سره مبارزه زموږ لومړیتوب ده، نو افغان حکومت ته هم په کار ده چې ژر په دې اړه خپله تګلاره اعلان کړي)).

د امریکا سفارت داسې مهال دغه څرګندونې کوي چې په دې وروستیو کې ګڼو نړیوالو معتبرو بنسټونو په افغانستان کې د فساد پر اوسني وضعیت جدي اندېښنه څرګنده کړې ده. همدا تېره ورځ هم سیګار ویلي وو چې افغان حکومت د فساد د له منځه وړلو لپاره نه، بلکې د مفسدینو د پاللو په لټه کې دی او د هغو کسانو د ګومارلو تابیا یې کړې چې د فساد په لویو قضیو کې ښکېل دي او لا یې دوسیې نه دي نهایي شوې.

د سیګار مشر جان سوپکو ویلي وو، افغان حکومت ته په کار ده چې له فساد سره مبارزه خپل لومړیتوب وګرځوي او په دې توګه د نړیوالو ملاتړو باور خپل کړي. افغان حکومت بیا په دې اړه هېڅ غبرګون نه ښیي او نه هم رسنیو ته معلومات ورکوي. نړیوالې اداري وايي چې افغان حکومت په فساد د تورنو کسانو دوسیې هم په سمه توګه نه دي څېړلې. پر افغان حکومت داسې مهال د فساد د موجودیت او پراختیا نیوکه کېږي چې د فساد د له منځه وړلو لپاره ګڼې اداري هم رامنځ ته شوې دي خو له پایلو ښکاري چې کارونه یې ګټور نه دي.

# روحاني: ایران د امریکا د بندیزونو او کرونا ویروس له سخت حالت سره مخ کړی دی

د ایران ولسمشر حسن روحاني وايي، د امریکا د متحدو ایالتونو د بندیزونو او کروناویروس له کبله یې هېواد سږکال له سخت حالت سره مخ دی.

د کروناویروس او د امریکا له لوري لګول شویو بندیزونو ایران نور هم له اقتصادي ستونزو سره مخامخ کړی دی. دا په داسې حال کې ده چې تېره ورځ د ایران پیسې «ریال» د ډالر په مقابل کې خپلې تر ټولو ټیټې کچې ته ښکته شوې و. د ایران ولسمشر حسن روحاني ویلي: «روان کال د کروناویروس او اقتصادي فشارونو له کبله تر ټولو سخت کال دی. اقتصادي فشارونه چې په ۲۰۱۸ ز کالکې پیل شوي، نور هم زیات شوي دي...او زموږ ګران وطن نن له تر ټولو سخت فشار سره مخامخ دی.»

دا په داسې حال کې ده چې ولسمشر ټرمپ په ۲۰۱۸ ز کالکې له هغه اټومي تړون څخه ووت چې د ایران، د نړۍ زبرځواکو هېوادونو او امریکا ترمنځ لاسلیک شوی و. د یاد تړون پر بنسټ ایران به اټومي پروګرام بندوي او په بدل کې به پرې اقتصادي بندیزونه لرې کېږي، خو ولسمشر ټرمپ وايي چې دا تړون نیمګړی دی او ایران ته یې ګټه زیاته ده. له همدې کبله هغه امریکا له دغه تړون څخه ایستله او واشنګټن پر تهران باندې نور اقتصادي بندیزونه هم لګولي دي.

په همدې حال کې په ایران کې په دې وروستیو کې د کرونا له کبله د مړو شمېر زیات شوی دی. ایران د اپرېل په میاشت کې د کرونا له کبله لګول شوي بندیزونه کم کړل. اوس یې اعلان کړی چې له بلې اونۍ وروسته به د ماسک تړل د دوو اونیو لپاره جبري وي. په ایران کې په دې وروستیو کې د ورځې ۱۰۰ کسان د کروناویروس له کبله مړه کېږي. د دغه هېواد د روغتیا وزارت ویانده سیما سادات وايي چې تر دې دمه په ایران کې د کروناویروس له کبله ۱۰۵۰۸ کسان مړه شوي او ۲۲۲۶۶۹ نور په دغه ویروس اخته دي.


د یادونې ده چې د کروناویروس په لومړي ځل د ۲۰۱۹ ز کال د ډسمبر په میاشت کې د چین د هوبې ایالت په ووهان ښار کې خپور شو او دا مهال د جانس هاپکېنز پوهنتون د معلوماتو پر اساس، څه باندې ۱۰ میلیونه انسانان پر دغه ویروس اخته دي‌او شاوخوا ۴۹۰ زره نور پرې مړه شوي دي.

## د کتــاب خبــرې

# د یوویشتمې پېړۍ تجارت

◎ لیکوال: رابرټ کیوساکي
◎ ژباړن: علي‌الله متوکل

### دویمه برخه
### یو کاروبار او اته شتمني جوړوونکې دارايي
### دوولسم څپرکی




ښکاره خبره ده چې موږ توماس اډیسن، سم والټون او بیل ګېټس نه یو او نه د هغوی په څېر کېدای شو. دا سمه خبره ده چې په هر نسل کې یو څو داسې کسان پیدا کېږي چې له صفر څخه څو میلیارد ډالري شبکې جوړوي؛ خو دا چې سلګونه زره یا میلیونونه کسان به داسې وکړای شي، مناسبه خبره نه ده.
په همدې خاطر د تجارت لپاره شبکې جوړول تر ټولو ښې دي. هغه شرکتونه چې ستاسو په څېر میلیونونو خلکو ته د شبکه یي بازارموندنې تجارت رامنځته کوي، موخه یې دا ده چې تاسو د بل تر لاس لاندې د هغه په شبکه کې له دندې څخه د ځان خلاصولو موقع پیدا کړئ.

**د میټ کالف قانون**


د 3com او Ethernet بنسټګر رابرټ میټ کالف لاندې فارمول اختراع کړ چې د شبکو ارزښت پکې معلومېږي:
V=N^2
په بله وینا، د اقتصادي شبکې ارزښت د شبکې د غړو له دوه توان سره مساوي دی. که تر دې هم په ساده ژبه ووایم، څومره چې غړي زیاتوي، ارزښت په هندسي شکل پورته کېږي.
د ټلیفون یوه شبکه په پام کې ونیسئ. که په یوه اداره کې یوازې ته ټلیفون ولرې، دا هېڅ اقتصادي ارزښت نه لري. که یوازې ته ټلیفون ولرې او نور یې ونه لري، نو چا ته زنګ وهې؟ د میټ کالف د قانون پر اساس، که په اداره کې یو بل ټلیفون زیات شي، اقتصادي ارزښت ډېرېږي. ارزښت له صفر څخه دوو او څلورو ته رسېږي. یانې ته هغه ته زنګ وهې او هغه تا ته. هغه ستا ټلیفون ته ځواب ورکوي او ته د هغه ټلیفون ته. که درېیم ټلیفون زیات کړې، ارزښت نهو ته پورته کېږي. نو شبکه د توان په شکل ځي. له حسابي پلوه نه پورته کېږي؛ یانې د دوو ټلیفونو لرل دوه ارزښتونه نه، بلکې څلور ارزښتونه لري.

**شبکې تجارتي نړۍ ته ننوزي**

د پخواني صنعتي عصر تجارتونه د امپراطورۍ په توګه اداره کېدل. که به هرڅومره قوي وو، بیا به هم د مرکزي دولت په واک کې وو.
د نولسمې پېړۍ په شپږمه لسیزه کې د تجارت یوه نوي ډول پرمختګ وکړ چې ټولې برخې به یې د یوې اداري لخوا نه اداره کېدې، بلکې د شبکې له جوړښت څخه به یې کار اخیست. دا نظریه دومره انقلابي وه چې زیاتو انتقاد پرې وکړ او د امریکا کانګرس یوازې د یوولسو رایو په اخیستلو ناقانونه اعلانولی شوای. په لومړیو کلو کې له منځه ولاړه نه، اوس د امریکا د پلور درې سلنه برخه جوړوي. مشهورې یې Subway، Ace Hardware او McDonald’s دي.
دغه اساسي تجارت ته فرنچایز یا د امتیاز حق وایي. فرانچایز د تجارت یو ډول دی چې د یوه تجارت د بېلو برخو خاوندان په یوه ډول کار کوي. له منطقي اړخه ویلای شو چې دوی ټول یو ډول ارزښتونه لري. خو فرانچایز په نړیوال بازار کې د شبکې د پرمختګ یو ګام دی. پاتې خبرې به «جان» درته واضح کړي.
جان: رابرټ په خپلو خبرو کې رښتینی دی. دلته یوازې کمیسیون ته په بېله طریقه د پیسو ورکولو یا بېلې ډلې ته د بازارموندنې د مسئولیت بدلولو خبره نه ده، بلکې دا د تجارت یوه نوې طریقه ده. د اقتصاد په معلوماتي عصر کې دا تجارت د شبکو په مرسته کېږي. د هغو تبلیغاتو له مخې نه کېږي چې د مرکز لخوا وي.
تر فرانچایز وروسته د شبکه یي تجارت د پرمختګ بل ګام د شلمې پېړۍ په اوومه، اتمه او نهمه لسیزه کې واخیستل شو. د تجارت په دې ډول کې د دې پر ځای چې په شبکه کې فرنچایز تجارتونه جوړ شي، فرنچایز افراد جوړ شول. یانې افرادو د تجارتونو ځای ونیو. دې ته شخصي فرانچایز هم ویلای شو.
د فرانچایز د لومړي ډول په څېر دا هم له زیاتو انتقادونو سره مخ شو. پر انتقادونو سربېره بیا هم سقوط نشو او پرمختګ یې وکړ. دا ډول بازار موندنه، شبکه یي بازار موندنه ده.
رابرټ: البته واقعیت دا دی چې په فرنچایز تجارت کې ته د شبکې یوه برخه یې، ټوله شبکه ستا نه ده. ته یوازې د خپلې برخې کاروبار خاوند یې.
جان: د شبکه یي بازار موندونکي په توګه ته نه یوازې خپله شبکه جوړوې، بلکې د خپلې شبکې مالک هم یې. رابرټه! لکه څنګه چې تا ووېل، دا مالي توان خورا پیاوړی کوي.
په بله وینا، د یو شبکه یي بازار موندونکي په توګه، ته د میټ کالف د قانون وړتیا او واک ترلاسه کوې. مثلاً، لکه یوازې چې ته ټلیفون ولرې او نور څوک یې ونه لري. د میټ کالف له قانون څخه د ګټې اخیستنې لپاره مجبور یې چې ستا غوندې یو بل څوک هم د شبکې د پرمختګ لپاره پیدا کړې، یانې شریک پیدا کړه. که دوه تنه شئ، نو د میټ کالف د قانون له مخې څلور کسان شوئ. که درې شئ، نو ارزښت به مو نهو ته پورته شي. که ستا دوه تنه، نور دوه تنه پیدا کړي، نو د شبکې اقتصادي ارزښت به دې سپوږمۍ ته د توغېدونکي راکټ غوندې په چټکۍ زیات شي. تاسو د ریاضي له مخې کار کوئ؛ خو ستاسو اقتصادي ارزښت په بالقوه توګه مخ په زیاتېدو دی.
**دوام لري...**

# پکتیا

حشمت الله نوري



پکتیا ولایت د افغانستان په سوېل- ختیځ زون کې پروت غرنی ولایت دی، چې ټول مساحت یې ۱٦۸٦۲ کیلومتره مربع او د بحر له سطحې شاوخوا ۱۵۰۰ متره لوړ دی. پکتیا ۱۳ لویې او وړې ولسوالۍ لري چې ډېر اوسېدونکي یې په غرنیو ولسوالیو کې ژوند کوي.
د رباني د حکومت پر مهال یې سرشمېرنه نږدې پنځه سوه زره شوې؛ خو په پکتیا کې دا مهال د روغتیایي او مرستندویه ادارو له لوري نارسمي سرشمېرنې څرګندوي، چې پکې د وګړو شمېر تر یو نیم میلیون پورې رسېږي.
پکتیا اوږده تاریخي سلسله لري، د پخوانیو اریایانو مرکز ګڼل شوی او په تاریخي کتابونو کې راغلي چې ټول پښتانه په هغه وخت کې له دې ځایه نورو سیمو ته کوچېدلي او ځای پر ځای شوي دي.
پکتیا شپاړس اداري واحدونه لري چې یو مرکز او دیارلس ولسوالۍ دي. احمدآباد، سیدکرم، میرزکه، احمدخېل، ځاځي اریوب، لجه منګل، جانخېل، څمکني، ډنډې پټان، شواک، ګرده څېرۍ، وزې ځدراڼ او زرمت یې ولسوالۍ دي، چې احمداباد او سیدکرم یې هوارې ځمکې او پاتې نورې یې بیا ډېرې غرنۍ سیمې لري.
د مچلغو بند د پکتیا له مرکز ګردېز ښار څخه ۴۰ کیلومتره مخ په سوېل- ختیځه سیمه په احمدابا ولسوالۍ کې موقعیت لري. دغه بند ۱۸۰۰ هکټاره ځمکه خړوبوي او د ۸۰۰ کیلو واټه برېښنا د تولید ظرفیت لري. که څه هم چې له تېرو څو کلونو راهیسې یې د جوړېدو ژمنې کېږي، خو لا هم نه دی جوړ شوی.
د پکتیا خلک د جرګو او مرکو د خلکو په نامه یادېږي او ډېرې شخړې او لانجې پکې له دې لارې هوارېږي او دا یې د کلتور یوه خاصه ځانګړنه ده. په پکتیا کې ډېرې تصمیمونه د قومونو له خوا نیول کېږي؛ خو د دې تر څنګ لوړ ولور او ډېر نور دودونه هم پکې رواج لري.
دغه راز په تېرو یوولسو کلونو کې لکه د نورو ولایتونو په شان پکې فرهنګي چارې هم ګړندۍ شوې دي.
په پکتیا کې پنځه اویا کاله وړاندې د وړانګې په نامه یوه پنځلس ورځنۍ جریده د اطلاعاتو او کلتور ریاست په چوکاټ کې خپرېده؛ خو د دېرش کلنو جګړو او د طالبانو د واکمنۍ پر مهال له خپرېدو پاتې وه چې د نوي حکومت په راتلو سره بیا فعاله شوه. دغه راز پکې وخت ناوخت غونډې، ادبي ناستې، مشاعرې، سمینارونه او نورې فرهنګي چارې هم تر سره کېږي.
د ګردېز بالاحصار د پکتیا تر ټولو لوړه او ستره تاریخي سیمه او ودانۍ ده. دغه بالاحصار د ښار ختیځ ته په څلوېښت متره لوړه غونډۍ پروت دی، چې اوږدوالی یې ۱۵۰ متره او پلنوالی یې پنځوس متره ښودل کېږي.
د دغه بالاحصار په اړه د سیمې اوسېدونکي وایي چې سلګونه کاله پرې تېر شوي او په خپل وخت کې واکمنو د یوه سنګر په توګه کار ترې اخیست.
پکتیا د تاریخ په اوږدو کې په خپله غېږه کې ډېر ستر شخصیتونه روزلي او ټولنې ته یې وړاندې کړي دي. پخوانی ولسمشر ډاکټر نجیب الله، ببرک خان ځدراڼ، باچا خان ځدراڼ، مورخ عبدالحی ګردېزي، سرمحقق علي محمد منګل، غلام محمد زرملوال، حیات ګردېزی، استاد ګل زمان، احسان الله درمل، رحیم الله زرمتی او ډېر نور یې مشهور او نومیالي دي.
د نوي حکومت په راتلو سره په تېرو یوولسو کلونو کې په پکتیا کې هم د نورو ولایتونو په شان ډېرې رسنۍ فعالیت کوي. وړانګه، اوښتون، سحر، پکتیا، ولس هیلې، سیدکرم، میرزکه، افغان ننګ، پکتیا ځوانان او غوټۍ مجلې او سراب او پکتیا غږ جریدې یې چاپي رسنۍ دي. دغه راز ملي ټلوېزیون، ملي، اوښتون، پکتیا غږ، روان اف ام، کاروان او څمکنۍ غږ په دې ولایت کې فعالې راډیوګانې دي.
د دې تر څنګ پژواک خبري آژانس، کلید، بي بي سي، ازادي، سلام وطندار او بیان راډیوګانې او شمشاد، ژوندون، لمر، طلوع، یک او ځینې نور ټلوېزیونونه له کابله هم په دې ولایت کې اورېدل کېږي او لیدل کېږي.
دا مهال په پکتیا کې ۳۴۰ ښوونځي او بېلابېلې ښوونیزې اداري شته، چې په کې ۸ دیني مدرسې، یوه میخانیکي، یوه د کرنې مسلکي لېسه او یو کثیرالرشتوي انسټیټیوټ شامل دي، چې ۱۸۰۰۰۰ زره زده کونکي پکې پر زده کړو بوخت دي چې ۴۵۰۰۰ یې نجونې دي.
په پکتیا کې له ۳۴۰ ښوونځیو څخه ۱٦۹ ښوونځي ودانۍ نه لري. پکتیا له پنځو څانګو سره یو دارالمعلمین او یو پوهنتون هم لري.
په پکتیا کې که څه هم چې صنعت ډېره وده نه ده کړې؛ خو په ځینو کلیو او بانډو کې لاسي توکي جوړېږي. ځینې کسان د خامک، وړیو، نیمڅي، ټوکرۍ، پوزي، خټین لوښو او نورو کار کوي. پکتیا یو غرنی ولایت دی چې ډېرى برخه یې غرونه دي او د کر لپاره کمې ځمکې لري.
سیدکرم، احمداباد او زرمت ولسوالۍ او ګردېز ښار د کرنې وړ ځمکه لري چې تر ډېره په کې غنم، جوار او ځینې نور حبوبات کرل کېږي. په پکتیا کې په دې وروستیو څو کلونو کې د باغونو جوړولو ته هم د خلکو پام اوښتی او د مڼو او نور مېوو باغونه مخ په ډېرېدو دي.
د دې ولایت ډېرى ځوانان عربي هېوادونو ته د کار روزګار لپاره ځي.
په پکتیا کې ځوانان پر ډېرو لوبو بوخت دي، والیبال، کرکیټ او فوټبال هغه لوبې دي چې په مرکز ګردېز او ولسوالیو کې مینه وال لري. دغه ډول ډېرى ځوانان بیا د لازمو امکاناتو د نشتون له امله دودیزې لوبې هم کوي چې پکې خوسی، تیره اچول، غېږ نیول او نور شامل دي.

اقتصاد

همیانی

# هڅه وکړئ چې نوښتګر واوسئ

ژباړه: حمیدالله حمیدي




خلاقیت او نوښت مانا دا چې په یوه نوي لاربښوونه باندې د یوه کار کول چې کېدای شي پایله یې مثبته او یا هم منفي، له دې مه وېرېږئ چې کومه پایله به لاس ته را نه وړی. که مو مثبته پایله تر لاسه کړه، نو څومره ښه ده. که خدای مه کړه پایله یې منفي وه هم هېڅ خبره نه ده، دنیا خو څه اخر ته نه ده رسېدلې.
بیا هڅه وکړئ، ډېرې لارې شته چې کولای شي تاسو بریا ته ورسوي، خو په دې شرط چې له هڅې لاس وا نه خلی. د یوه کار ټول اړخونه وسنجوئ او په موقع سره د خطر په ډګر کې ګام کېږدئ.
خلاقیت یا نوښت په دې مانا دی چې ته وکولای شې د ستونزو د حل لپاره داسې څه تر سره کړې او یا یې نوي منځ ته راوړې، چې مخکې له دې چا دا ډول څه نه وي کړي او د کارونو په ګړندیتوب کې درسره پوره مرسته وکړي. کېدای شي همدا خلاقیت او نوښت ځینې وخت د دې لپاره وي چې تاسو هڅه کوی کارونه مو ښه پر مخ ولاړ شي، له داسې یوه څه سره مو مخامخ کړي چې تاسو یې په اړه ان فکر هم نه وي کړی، هغه به منفي او یا هم مثبت وي؛ خو په هر صورت، دغه هڅه د دې لامل ګرځي چې زموږ ژوند له یو نواخت حالت څخه ووځي او بدلون په کې راشي، نو هڅه مو باید دا وي چې خلاق و اوسو.
تل موخه لرونکي اوسئ او هره ورځ په دې اړه فکر وکړئ، چې څنګه کولای شی په ژوند کې بدلون راولی، د ښه کېدو پر لور ګام پورته کړئ او د ځان لپاره یو هوسا او په زړه پورې ماحول برابر کړئ او په خوښۍ سره په کې ژوند وکړئ.
که داسې وي چې دېرش کاله تاسو په یوه اداره کې کار وکړی او هر سهار د دفتر په موټر کې کارځای ته ولاړ شی او بېګا بیا د عملې په موټر کې کور ته را وګرځی او په همدې یو ډول مو دا دېرش کاله تېر شي، کېدای شي دغه حالت ستاسو پر مغز منفي اغېز وکړي او تاسو له هر ډول نوښت او خلاقیت څخه لرې وساتي. تل هڅه وکړئ چې تنوع طلبه واوسئ او یوه مبتکرانه روحیه ولری.
تاسو کولای شی چې کله کله له دفتر څخه د تلو لاره بدله کړئ او د شاوخوا مغازو په اړه فکر وکړئ او ورته وګورئ.
له دندې څخه تر وزګارېدو وروسته کولای شی له بل همکار سره مو پارک ته ولاړ شئ او یا هم کله کله یوه شپه د خپلو خپلوانو کره وکړئ. یا هم دې ته ورته نور کارونه چې په ذهن کې مو در کرځي تر سره یې کړئ، خلاصه دا چې یو کار تر سره کړئ څو ژوند درته یو نواخته او یو ډول نه وي.
په هغه څانګه او رشته کې چې زده کړې مو پکې کړې دي، لازمه تجربه او مهارت لاسته راوړئ. په دې برخه کې د زیاتې مطالعې په کولو سره ځان په یوه مسلکي او د دې برخې پر کارپوه باندې بدل کړئ. څومره چې په خپله رشته کې زیات معلومات او پوهه ولری، په هماغه کچه به خلاق او نوښتګر فکر ولری. علم او پوهه تاسو ته هغه قوي وزرونه درکوي، چې بیا کولای شی د خپلې خوښې هغه ځای ته پرې پرواز وکړی، چې له دې مخکې ورته څوک نه دي رسېدلي. نو د دې کارونو په تر سره کولو کې ځنډ مه کوئ.
لازمه نه ده چې د هرې کړنې په بدل کې تاسو ته جایزه درکړل شي او یا په کې ګټه وکړی. دا چې وکولای شی په خپل عالي فکر سره یو عالي او نوی کار تر سره کړی، دا خپله ستاسو لپاره یوه لویه لاسته راوړنه او ګټه ده. په دې کار سره ستاسو روحیه لوړېږي او کولای شی خپلو ملګرو، دوستانو، وطنوالو او دونیاوالو ته په ښه ډول د خدمت جوګه شی.
هغه استاد په نظر کې ونیسئ چې کلونه کلونه په ټولګي کې په یو ډول خپلو زده کوونکو ته تدریس کوي، زده کوونکي یې هم په پوره دقت سره خبرو ته غوږ نه ږدي او له دې یو ډول مېتود څخه یې ستړي شوي وي، ځکه ښوونکی غواړي په دې کار سره یوازې خپله میاشت پوره کړي او تنخوا واخلي، په دې اړه فکر نه کوي چې څنګه کولای شم له دې هم په پورته رتبه کې کار وکړم، ځکه غوښتنه یې نه ده.
په څنګ کې ور سره یو بل ښوونکی چې غواړي په ډېره مینه او پوره نوښت سره خپلو زده کوونکو ته درس ووایي، هره ورځ غواړي د تېرې ورځې په نسبت زده کوونکو ته په یوه نوې طریقه تدریس وکړي، مخکې له دې چې درس پیل شي ټولګی کنټرول کړي او زده کوونکو ته د درس لپاره انګیزه ورکړي او زده کوونکي هم په ډېره مینه د خپل ښوونکي درس ته غوږ نیسي او ان ځینې یې غواړي چې د رخصتیو په ورځو کې هم له خپل ښوونکي سره اړیکه ولري او تل یې په یاد وي. روښانه خبره ده چې دویم ښوونکی یو نوښتګر او خلاق ښوونکی دی او په دې سره یې خپل زده کوونکي دې ته واداره کړي، چې په پوره مینې سره ټولګي ته راشي او درس ووایي، چې همدا یې د ښوونکي د نوښتګر فکر پایله ده څو په راتلونکې کې یوه ډله سالم وګړي ټولنې ته وړاندې کړي.

## د بشري حقونو کمېسیون: د هدفي وژنو د مخنیوي په برخه کې د افغان حکومت ناغېړي د اندېښنې وړ ده

کمیسیون مستقل حقوق بشر افغانستان
د افغانستان د بشر د حقونو خپلواک کمیسیون
AFGHANISTAN INDEPENDENT HUMAN RIGHTS COMMISSION
۱۶ جوزا ۱۳۸۱

په لویو ښارونو او په ځانګړې توګه په کابل کې د بمي چاودنو په وسیله د هدفي وژنو زیاتېدو د ولسي جرګې د غړو او د بشري حقونو خپلواک کمېسیون اندېښنې زیاتې کړې دي.
د بشري حقونو خپلواک کمېسیون وايي، حکومت په ځانګړي ډول امنیتي او کشفي بنسټونه د هدفي وژنو په مخنیوي او د پېښو د عاملینو په پېژندنه کې پاتې راغلي دي.
د دغه کمېسیون د خپرونو رییس ذبیح‌الله فرهنګ د ملکي وګړو په نښه کول بشري جنایت بولي او وايي چې د دغه ډول پېښو دوام د اندېښنې وړ دی.
فرهنګ ویلي: «دغه ډول پېښې چې هغه کسان پکې په نښه کېږي چې په هېڅ کشمکش کې ښکېل نه دي، یو وحشیانه عمل دی. له بده مرغه حکومت هم د دغه ډول پېښو په ځانګړي ډول د کمېسیون د کارکوونکو د وژنې د عاملینو په پېژندنه کې په تېرو ۱۸ کلونو کې هېڅ عملي ګام نه دی پورته کړی».
دا په داسې حال کې ده چې وړمه ورځ د بشر حقونو خپلواک کمېسیون دوه کارکوونکي د کابل د احمد شاه بابا مېنې اړوند سیمه کې د ماین په یوه چاودنه کې ووژل شول.
د افغانستان د بشر حقونو خپلواک کمېسیون وايي، له دې وړاندې هم په کابل او بېلابېلو ولایتونو کې د دوی کارکوونکي په ورته پېښو کې وژل شوي دي. د دغه کمېسیون د خپرونو رییس ذبیح‌الله فرهنګ وايي چې حکومت د دغه ډول پېښو د عاملینو د نیولو په برخه کې عملي ګامونه نه دي اخیستي.
په ورته وخت کې د ملي شورا یو شمېر غړي د هدفي وژنو عاملین تروریستي ډلې او باندډونه یادوي. د ولسي جرګې غړی عبدالعزیز حکیمي په ټینګار سره وايي، که حکومت د هدفي وژنو مخه ونه‌نیسي، نو د دغه ډول پېښو مسوولیت ورګرځي.
خو د کورنیو چارو وزارت بیا وايي، د دغه ډول پېښو تر شا خطرناک مجرمین لاس لري چې د دوی په خبره، له تروریستي ډلو سره مرسته کوي.

## اروپايي اتحادیه: افغان حکومت دې د ماشومانو د ژوند د خوندیتوب لپاره جدي اقدامات وکړي



اروپايي اتحادیې پر افغان حکومت غږ کړی چې د کوچنیانو لپاره خوندي چاپېریال برابر کړي.
د اروپايي اتحادیې د بهرني سیاست د مشر دفتر د امریکا د بهرنیو چارو وزارت د کلني راپور په اړه په غبرګون کې ویلي چې د افغانستان حکومت او مدني ټولنه باید د کوچنیانو د ټولنیز خوندیتوب لپاره کلک ګامونه پورته کړي.
د امریکا بهرنیو چارو وزارت په خپل کلني راپور کې افغانستان د درییمې درجې هېوادونو په لېست کې راوستی چې له کوچنیانو د جنسي ناوړه ګټې اخیستنې، په جګړه کې د کوچنیانو د استخدام او قاچاق د مخنیوي لپاره یې حد اقل هڅې نه دي کړي. د دریيمې درجې هېوادونو په لېست کې ایران، روسیه، بلاروس او ترکمنستان هم شامل شوي دي. د امریکا د بهرنیو چارو وزارت دغه راپور د پنجشنبې په ورځ (د جون په ۲۵مه) په ۵۷۰ پاڼو کې خپور شو.
د اروپايي اتحادیې د بهرني سیاست د مشر ویاندې ازادي راډیو ته ویلي چې په راپور کې مهمې مسئلې راپورته شوې دي.
د یادې اتحادیې د بهرني سیاست د مشر ویاندې، ویرجیني باتو زیاته کړې چې د امریکا د بهرنیو چارو وزارت په راپور کې هغو مهمو مسئلو ته اشاره شوې چې د دوی لپاره هم لومړیتوب لري.
هغې ویلي چې داسې مسئلې یې تل د افغانستان له حکومت سره مخامخ مطرح کړې او غوښتنه ورځخه کوي چې کلک ګامونه واخلي.
په دې اړه د اروپايي اتحادیې د بهرني سیاست د مشر ویاندې، ویرجیني باتو ازادي راډیو ته ویلي: «د کوچنیانو د ژوند خوندیتوب باید د هرې ټولنې لپاره اولویت ولري، په ځانګړي ډول د وسله‌والو بحرانونو په وخت کې... له جنسي زور زیاتي او تشدده د کوچنیانو ساتل باید د حکومت، د دفاعي او امنیتي ځواکونو او مدني ټولنې لپاره لومړیتوب ولري.»
دا په داسې حال کې ده چې د امریکا د بهرنیو چارو وزارت په راپور کې د افغانستان د زیات شمېر سیمه‌ییزو چارواکو په حواله لیکل شوي چې په لرې پرتو سیمو کې د پولیسو او زورواکانو په پوستو کې کوچني هلکان د بچه‌بازۍ لپاره استخدام شوي دي. په راپور کې ویل شوي چې د افغانستان حکومت یو پولیس هم د بچه‌بازۍ په خاطر نه دی محاکمه کړی او په دې اړه‌یې څېړنې نه‌دي کړي.

### د اسعارو بیې

| | |
| --- | --- |
| $ | ۷۷,۱۰ |
| € | ۸۵ |
| Rp. | ٤٦٢ |
| ₹ | ۹۷۰ |
| ¥ | ۹,۸۰ |
| £ | ۹۳,۵۰ |

### بېړنۍ شمېرې

پولیس
119 - 100

امبولانس
112

اتاترک روغتون
0202500312

ملالۍ زېږنتون
0202201377

وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360

رابعه بلخي روغتون
0202100439

د کرونا روغتیایي مرکز
166

مسیر ورځپاڼه
مسوول مدیر: اسدالله وحیدي
مرستیال: شفیق امیرزی
ایډیټران: جواد تیموري او امان الله حنیفي
خبریالان: حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري
ګرافیک او ډیزاین: ارمان
چاپخونه: وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲۶۲۶
۰۷۸۲۹۸۹۶۹۶

maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily

وایگل چاپ
WAYGAL Printing Co.
WAYGAL PRINTING CO
غوره کیفیت او چټک خدمات په
وایگل چاپ کې تجربه کړئ!
STAY HOME
STAY SAFE
+93 (0) 202 51 2626
+93 (0) 782 98 96 96
waygalprinting.co@gmail.com
waygalprinting.co
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul

دوشنبه د ۱۳۹۹ د چنگاښ نهمه | د ۲۰۲۰ د جون ۲۹مه | ۵۵۸مه گڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننگرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۲۸ | ۳۱ | ۳٤ | ۲۹ | ۳۵ | ۲۹ |
| ۱۳ | ١٤ | ۱۷ | ۱۷ | ۲۲ | ۱۸ |

شرعي وختونه: سهار ۰۲:۵۹ | لمر ختل ۰٤:٤۳ | ماسپښين ۱۱:۵۸ | مازیگر ۰۳:٤٤ | ماښام ۰۷:۱۱ | ماخوستن ۰۸:۵٦

## نړۍ




## روحاني: ایران د امریکا د بندیزونو او کرونا ویروس له سخت حالت سره مخ کړی دی

۳

## تازه شمېرې: په نړۍ کې د کرونا وبا له کبله د مړو شویو کسانو شمېر له ۵۰۰ زره کسانو واوښت

د تازه شمېرو له مخې، په نړۍ کې د کرونا ویروس مثبتې پېښې له ۱۰.۱۷ میلیونو واوښتې. دغه راز د یاد ویروس له کبله تر دې مهاله ۵۰۲ زره او ۸٦۱ کسان مړه شوي او له ۵.۵۱ میلیونو ډېر ببرته رغېدلي دي. امریکا لاهم د دغه ویروس د ډېرو قربانیانو او مثبتو پېښو له اړخه په نړۍ کې تر ټولو مخکښ هېواد دی. په ورته وخت کې د بشري حقونو د څار نړیوال سازمان ترکمنستان ته خبرداری ورکړی چې د کرونا ویروس د خپرېدو په اړه د معلوماتو پټول، د دغه هېواد د میلیونونه وگړو ژوند له گواښ سره مخامخ کوي. دې نړیوالې اداري د ترکمنستان له حکومته غوښتي چې د کرونا ویروس په اړه کره معلومات را غونډ او خپاره کړي، خلکو ته د کرونا ویروس د معاینې ټېسټ امکانات برابر کړي او د دې وبا په اړه دې روغتیایي کارکوونکي له خبرو کولو نه منع کوي. دا په داسې حال کې ده چې ترکمنستان د نړۍ په څو هېوادونو کې دی چې ادعا کوي چې د کرونا ویروس هېڅ مثبته پېښه یې نه ده ثبت کړې. د بشري حقونو د څار نړیوال سازمان د منځنۍ اسیا او اروپا د برخې مرستیالې مشرې رېچل دنبر ویلي چې په هره دقیقه کې چې د ترکمنستان حکومت د کووېډ- ۱۹ ناروغۍ په اړه معلومات پټوي، خپل هېواد خلک له زیات گواښ سره مخامخ کوي.

## راپورونه: فرانسې ولسمشر ایمانویل مکرون به پر مهمو مسایلو د بحث لپاره ډېر ژر روسیې ته سفر وکړي



د راپورونو له مخې، د فرانسې ولسمشر ایمانویل مکرون ویلي چې پر مهمو مسایلو د بحث لپاره به ډېر ژر روسیې سفر وکړي. نوموړي پر خپل ټوېټر لیکلي چې ډېر ژر به روسیې ته ولاړ شي او له ولسمشر ولادیمیر پوټین سره به پر مهمو نړیوالو مسایلو لکه اقلیمي بدلون، خبرې وکړي.

د هغه په ټویټ کې لیکل شوي: «د باور پیدا کولو لپاره هغه ډیالوگ چې له ولسمشر پوټین سره په فورت برگانکن پیل شوی و، دوام لري.» د فرانسې ولسمشر دغه راز اروپایي ټولنه او ناټو هڅولي چې له روسیې سره ستراتېژیکو اړیکو ته بیا کتنه وکړي. مکرون پر ټوېټر لیکلي چې د روسیې پر وړاندې د هغوی د دفاعي دریځ غوره کولو سیاست ناکام شوی دی.

د فرانسې ولسمشر څرگنده کړې چې له پوټین سره په کتنه کې به د اروپا پر امنیت، سیمه ییزو شخړو، د اقلیم بدلون او د شمالي قطب د یخي د ویلې کېدو په څېر پر مهمو مسئلو خبرې وکړي. دا په داسې حال کې ده چې د سړې جگړې تر پای ته رسېدو وروسته، د غرب او روسیې اړیکې تر هر بل وخت اوس په ټیټه کچه کې دي. روسیې په ۲۰۱۴ میلادي کال کې د کریمیا ټاپو وزمه په زور له اوکراینه جلا او له ځان سره یو ځای کړه. له هغه راهیسې د اوکراین په ختیځ کې بېلتون غوښتونکي د اوکراین د حکومت پر ضد جنگېږي او پر روسیه تور پورې شوی چې د بېلتون غوښتونکو ملاتړ کوي.

## منابع: اختلاف‌ها میان هواداران عبدالله باعث تأخیر معرفی اعضای کابینه شده‌اند




شماری از چهره‌های سیاسی نزدیک به عبدالله عبدالله، می‌گویند که وجود اختلاف‌ها میان رهبران سیاسی هوادار آقای عبدالله دربارۀ معرفی نامزد وزیران و نیز سهم آنان در ولایت‌ها و معینیت‌های شماری از وزارت‌ها از علت‌های تأخیر در معرفی اعضای کابینه استند. سید اسحاق گیلانی، از پشتیبان آقای عبدالله در انتخابات گذشته و رهبر نهضت همبستگی ملی افغانستان، گفت: «داوطلب برای وزارت خانه‌ها و معینیت‌ها زیاد است ولی چوکی کم. از این خاطر یک مقدار خود داکتر صاحب (عبدالله عبدالله) هم مشکل دارد.» فکوری بهشتی، عضو ولسی جرگه نیز بیان داشت: «همۀ این‌ها به یک شکلی تعطیلی منافع ملی است.» در این میان، میرزا محمد کتوازی، معاون نخست ولسی جرگه ادامۀ سرپرستی‌ها را در نهادهای دولتی خلاف قانون می‌گوید و هشدار می‌دهد که بربنیاد تصمیم اعضای ولسی جرگه، آنان به نامزد وزیرانی که تابعیت دوگانه دارند، به فساد متهم شده‌اند و یا در نهادهای عدلی و قضای پرونده دارند رأی نخواهند داد: «پنج کمیسیون ولسی جرگه بالای اسناد وزیر صاحبان کار می‌کند که خلاف قانون هیچ وزیر را کمیسیون‌ها نخواهد پاس کرد.»

در حالی‌که بربنیاد توافق‌نامۀ سیاسی میان اشرف غنی و عبدالله عبدالله، عبدالرشید دوستم رتبه مارشالی بدست می‌آورد و عضو شورای عالی دولتی و عضو شورای امنیت ملی می‌شود، اما تاکنون از فرمانی دربارۀ اعطای این رتبه به آقای دوستم خبری نیست.

ریاست‌جمهوری اما می‌گوید که انتظار دارد عبدالله عبدالله فهرست نام‌های نامزد وزیرانی را که او معرفی می‌کند، به ریاست‌جمهوری بفرستد. اما نزدیکان آقای عبدالله می‌گویند که به‌زودی این فهرست به ریاست‌جمهوری فرستاده خواهد شد.

## ژوند

### خوښي په ویشلو لا زیاتېږي



له ښاد څخه د اوبو ایستل د دې باعث کېږي چې د ښاد اوبه نورې هم تازه شي، خو که د ښاد سر وتړو او له اوبو یې گټه وا نه خلې، هغه ده چې د وخت په تېرېدو سره په ښاد کې شته چینې بندېږي او په تدریج سره چینې مري، خو تازه اوبه تل رواني وي. مینه هغه مینه ده چې روانه او تل پاتې وي، راځئ خوښۍ له نورو سره وویشو، ښکلا له نورو سره وویشو، ژوند له نورو سره وویشو لنډه دا چې څه هم لرو له نورو سره یې شریک کړو، څو خوند ترې واخلو. د ژوند له ښکلاوو هېڅکله هم یوازې گټه اخیستل خوند نه کوي. خوښۍ چې څومره هم تقسیم شي په هماغه کچه زیاتېږي. عقل، راز او نیاز، مینه، ښکلا، نیکمرغي ټول په دې ښکلا کې گډ کړئ. که د وېشلو لپاره یې څوک نه لرې، نو له شته چاپېریال سره یې وویشئ، مهمه دا ده چې ویې وېشئ.

### د ډېرو یخو خوړو زیانونه



متخصصین وایي، د ډېرو یخو خوړو خوړل انسان د هاضمې سیستم پر ناروغۍ اخته کوي. دوی وایي، ډېر ځله لیدل شوي چې زیاتره کسان د ډېرو یخو اوبو او یخو نوشابو تر څښلو وروسته د خېټې له درد سره مخ کېږي. نسرین علي زاده چې د تغذیې د برخې مشهوره متخصصه ده وایي، مخکې له دې چې خواړه وخوړل شي او په معده کې هضم شي، لومړی باید د اړتیا په اندازه گرم شي. له همدې امله څومره چې د تودوخې له اړخه خواړه معتدل وي، هغومره پر معدې فشار کم او د درد مخنیوی کېږي. علي زاده همدا راز وایي چې ډېری کسان بیا د تودو خوړو په خوړلو روږدي دي، چې دا هم پر معدې د فشار او درد لامل کېږي. د دې لپاره چې په معده کې د خوړو هضم په سم ډول وشي، خواړه باید نه ډېر گرم او نه هم ډېر یخ وي. دغه راز ډېر گرم خواړه د مرۍ او معدې د سرطان لامل هم کېږي.

ماسټر ډېبټ کارټ

د عزیزي بانک ماسټر ډېبټ کارټ له پراخو خدماتو سره، ستاسو د مالي اړتیاوو او شرایطو سره سم ډیزاین شوی چې ستاسو له بانکي حساب سره تړاو لري او په هرځای کې خپلو پیسو ته لاسرسی لرلی شئ.

- په ټوله نړۍ کې له 25 میلیون ډېرو سوداگریزو مرکزونو/پلورنځیونو کې د منل کېدو وړتیا لري.
- د دې لپاره چې ژر پیسې ترلاسه کړئ په افغانستان او بهر کې د صرافۍ له ټولو اتومات ماشینونو گټه اخیستلی شئ.

1515 www.azizibank.af

عزیزي بانک
Azizi Bank

